درجه ۳: هغه زده کوونکي چې قصه يې په ياد وي او کولای شي چې ساده نتيجه گيري وکړي، او د هغې لپاره کافي دلايل هم وړاندي کړي، خو يو څه عمومي وي.
درجه ۴: هغه زده کوونکي چې قصه يې زده وي او موضوع ته نږدې نتيجه گيري وکړي، کيدای شي څه مشکلات ولري. موثر دلايل وړاندي کړي او هميشه د موضوع په باره کې مشخص وي.

# د لوستنيزو او وينيزو مهارتونو لوړاوی – دوهمه ورځ

زده کوونکو ته د دوهم ځل لپاره د قصې لوستلو ، او ځينې نورو فعاليتونو له اجرا وروسته تاسې به وغواړئ چې قصه د سواد د نورو مهارتونو د جوړولو لپاره وکاروئ. تاسې لاندې درسونه د بل هر څه او يا ګډ له نورو سره د دې هدف لپاره تر سره کولای شئ. تاسې دا فعاليتونه د لوست په مختلفو ورځو کې اجراکولای شئ.

## د لوستنې لپاره د الفاظو د زېرمې پراختيا

کله چې زده کوونکو قصه واوريده او بحث يې په وکړ، دوی ممکن دې ته چتو وي چې د قصې ځينې لغاتونه زده کړي او ويې لولي. د دې فعاليتونو هدف دا دی چې له زده کوونکو سره مرسته کوي چې لغاتونه د ځان سره ولولي. د دې فعاليتونو لړۍ (سلسله) د ۳۰- ۴۰ دقيقو پورې دوامدار/پرله پسې وخت نيسي.

### د درس لپاره تياری

- په کتاب يو ځل بيا مرور وکړئ او له قصې څخه د زده کوونکو لپاره لړترلړه لس لغاتونه غوره کړئ چې دوی زده کړي کله چې دغه لغاتونه وينې ويې پيژني. يو لست د ځان لپاره وساتئ چې د انتخابېدونکيو لفظونو په نه هېرولو کې درسره مرسته وکړي. (ځکه چې همدغه کړنه به وروسته له نورو کلمو سره هم تر سره کړئ). لومړی د کيسې هغه کلمې وټاکئ چې په رسمونو کې هم راتللای شي. د بېلګې په ډول، لاندې يو څو کلمې ډېرې مناسبې برېښي چې پيل پرې وکړئ:

| | | | |
|---|---|---|---|
| ښځه | ګوربت | پيالې | قابونه |
| چړې | اوبه | ښيښه | پنجې |
| ښکې | دروازه | | |



- هره کلمه پر يوه لوی کارت، يوه کلك کاغذ يا تخته روښانه وليکئ. هره ليکلې کلمه بايد زغرده او لويه وليکئ چې شاګردان يې وليدلای شي.
- که تاسې د لغت کارت فعاليت استعمالوئ (اووم پړاو)، د هر زده کوونکي لپاره د يادداشت کارډ، تار او د ليکلو وسايل ولرئ.
- درسي پلان په ځير وګورئ چې د درس له ګامونو يا پړاوونو سره بلد شئ.

# د لفظونو د زېرمې زياتولو فعاليتونه

۱. زده کوونکيو ته ووایاست چې نن به هغوی له لوستل شوې کیسې څخه کلمې زده کړي. هغوی ته ووایاست چې داړه یاست هر هلك به نن لږ تر لږه یوه کلمه زده کړي، او ځینې لا ښايي ډېرې کلمې زده کړای شي.

۲. د **ګوربت** کلمه پورته ونیسئ، چې هرڅوك يې وليدلای شي. کلمه تلفظ کړئ، او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې کلمې ته وګوري، او څوځله دغه کلمه له تا سره تکرار کړي. بیا له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې کلمه په جمله کې وکاروي. دا جمله کېدای شي د کیسې په اړه وي، یا یوه عادي جمله وي چې کلمه پکې سمه کارول شوې وي. مثلاً داسې څه ويلای شئ:




*دا د **ګوربت** لغت دی. ستاسې زموږ د کیسې ګوربت یادېږي. د ګوربت لغت پر کارولو یوه جمله ووایاست، لکه، "ګوربت یو لوی مرغه دی". ممکن تاسې یوې داسې جملې باره کې فکر وکړئ چې زموږ له کیسې سره یو څه اړیکه ولري.*

له دوه یا درې زده کوونکو پوښتنه وکړئ په هغه جمله چې فکر کوي ویې وايي. وروسته لغت په دیوال وځړوئ او یا زده کوونکي تا ووایاست چې ستاسې په څنګ کې ودرېږي او لغت جګ ونیسي چې ټول زده کوونکي يې ولیدلای شي.


۳. د **ښځه** کلمه داسې پورته ونیسئ چې ټول يې وليدلای شي. کلمه په زوره تلفظ کړئ او له هلکانو غوښتنه وکړئ چې کلمې ته وګوري او څوځله يې درسره ولولي. بیا له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې کلمه په جمله کې وکاروي. دا جمله ښايي د کیسې په اړه وي، یا همداسې یوه عادي جمله وي چې د نوم لفظ پکې کارول شوی وي.
د ساري په توګه، داسې څه ويلای شئ:

*دا لغت **ښځه** دی. ستاسې زموږ له کیسې هغه زړه ښځه یادیږي چې څرنګه يې فکر کاوه ګوربت یوه عجیبه کوتره ده، ځکه چې هغې پخوا هیڅکله ګوربت نه وو لیدلی؟*

بیا هم دوه یا درې هلکان راوغواړئ چې خپله جمله ووايي. بیا دوهمه کلمه په دیوال سرېښ کړئ یا یو بل زده کوونکی لومړي ته څېرمه ودروئ او کلمه په لاس کې ورکړئ، چې ټول يې وليدلای شي. دواړو کلمو ته بېله اشاره وکړئ او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې درسره تکرار يې کړي.

۴. همدا کړنه پر ټولو لسو کلمو تکرار کړئ. هر ځل یوه کلمه ووایاست، او له زده کوونکیو غوښتنه کوئ چې درسره يې ووایي. له دوو یا دریو زده کوونکیو غوښتنه کوئ چې کلمه په جملو کې وکاروي. او ورپسې يې له تېرو

کليمو سره په ليکه ږدئ. هرځل چې نوې کلمه پر خپل ځای ږدئ، (پر دېوال، يا د زده کوونکيو په ليکه کې د يوه زده کوونکي په لاس کې)؛ ټولو کلمو ته اشاره کوئ او له زده کوونکيو غوښتنه کوئ چې درسره تکرار يې کړي.




۵. کله چې ټولې کلمې وړاندې شي، بيا يې سره ګډې وډې کړئ، او له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې ستاسې له اشارې سره يوځای يې، يوه يوه، درسره تکرار يې کړي. مثلاً، که کلمې پر دېوال سريښې وي، نو ښکته پورته يې کړئ، چې مختلفو ځايونو ته ولاړې شي. که زده کوونکي په ليکه کې ولاړ او کلمې يې په لاسونو کې وي، نو له هغوی غوښتنه وکړئ چې ځايونه بدل را بدل کړي.

۶. پر زده کوونکيو د څو ورځو لپاره د کلمې د ويلو، او جمله کې کارولو تمرين وکړئ تر هغو چې هره کلمه ستاسې له اشارې سره سمه وپېژني.

۷. هره زده کوونکي ته لس کارتونه (يا د پرېړ کاغذ لس ټوټې) ورکړئ، او غوښتنه ځنې وکړئ چې لس واړه کلمې پر لسو کارتونو په دقت کاپي کړي. هغوی ته ووایاست چې کارت په يوه خوندي ځای کې وساتي، او هره ورځ دې يې يو يا دوه ځلې د لوستلو تمرين وکړي. د دې کارتونو لپاره غوره حجم ۳ په ۵ انچه (يا ۸ په ۱۲ سانتي متره) دی.

۸. کله چې زده کوونکي خپله د کلمو ټولګه انتخاب کړي، له کيسې څخه لس نورې کلمې انتخاب او پورته ګامونه (۱ تر ۷ پورې) تکرار کړئ.

۹. له زده کوونکيو غوښتنه وکړئ چې وروستي لس کارتونه خپلې لومړۍ جوړې کړې مجموعې ته ور زيات کړي، او ټولې شل کلمې له ځان سره تکرار کړي.

۱۰. دې طريقې ته تر هغو دوام ورکړئ چې زده کوونکي د کتاب ټولې يا زياتې کلمې زده کړي.

تاسې کولای شئ له زده کوونکيو سره د هرې کلمې د کارت په کونج کې د سوري په جوړولو او د يوه تار په وسيله د کارتونو په بندولو کې مرسته وکړئ چې د نورو کلمو ور زياتول اسانه شي.

کله چې زده کوونکي زياتو کارتونو ته اړتيا ولري، نو غوښتنه ترې وکړئ چې ځينې کلمې په فقرو يا جملو کې سره ترتيب کړي چې ولوستل شي. دا يوه ښه صنفي کړنه ده چې زده کوونکي يې په فردي توګه، يا له بل ملګري سره ترسره کولای شي. کله چې يې کلمې په فقرو يا جملو کې ترتيب کړې، بيا کولای شي هغه د ليکلو د تمرين په موخه د کاغذ يوې ټوټې ته کاپي کړي (که څوک د ليکلو تمرين ته اړتيا لري). که چېرته زده کوونکي د جملو يا فقرو جوړولو پر مهال، په خپلو کارتونو کې ټولې د اړتيا وړ کلمې ونه لري، نو کولای شئ هغو ته ځينې کلمې ورکړئ. دغه نوي کلمې په کارتونو وليکئ او هغوی ته يې وسپارئ چې د خپلو کارتونو په مجموعه کې يې کښېږدي.

# د لوستنيزو او وينيزو مهارتونو لوړاوی – دریمه ورځ

کله چې تاسې په درې ورځو کې زده کوونکو ته د قصې لوستل پای ته ورسول، او ځينې نورې کړنې مو تر سره کړې، تاسې ښايي لوست ته د سواد د نورو مهارتونو د جوړونې لپاره ادامه ورکړئ.

تاسې کېدای شي د لغاتونو د انکشاف کړنې مرور او د دوهمې ورځې لغاتونه ور زيات کړئ او زده کوونکي بايد د لغاتونو په کارولو کې نور لغاتونه ورزيات کړي.

وروسته لاندې کړنې (فعاليتونه) د زده کړې د لغاتونو د بيلګو لپاره تر سره کړئ:

## په کلمو کې د توريو د شکلونو لوستنه



همداسې چې زده کوونکي د لوستنې لپاره د کلمو زېرمه جوړوي (هغه ډول کلمې چې دوی يې چاپي يا ليکلي شکلونه پېژندلي)، هغوی کولای شي زده کړې کلمې په کلمو کې د حروفو او صوتي اشکالو د زده کولو لپاره وکاروي. په کلمو کې د غږيزو اشکالو او حروفو د زده کړې غوره لاره د کلمو ډل بندي يا پر ټوليو وېشنه ده. لاندې د دې کار يوه طريقه بيان شوې:

۱. زده کوونکيو ته ووایاست چې هغوی چې څومره زياته اندازه کلمې زده کولای شي، په همغې اندازه به په کلمو کې د غږونو او تلفظي بڼو د اورېدلو او ليدلو وړتيا ولري. د خپل غرض د روښانولو لپاره له خپل درس څخه درې کلمې انتخاب کړئ. له دغو دريو کلمو څخه دوه بايد هم-قافيه وي(يعنې وروستی غږ يې يوډول وي)، او دريم يې بايد مختلف پای-غږ يا قافيه ولري. دا درې کلمې په داسې ځای کې کښېږدئ چې ټول زده کوونکي يې وليدلای شي. داسې ووایاست:

*دغو دريو کلمو ته وګورئ. له ماسره يې تکرار کړئ.* (له هلکانو غوښتنه وکړئ چې کلمې په يوه غږ درسره تکرار کړي.) *دوه کلمې هم قافيه دي او په پای کې يې يو ډول غږ دی. هغه دوه کلمې کومې دي؟*

۲. کله چې زده کوونکي هم قافيه کلمې سمې په نښه کړي، يوه بله درې حرفيزه مجموعه ور وښاياست چې د يوې قافيه يې مختلفه وي. بيا غوښتنه ورڅخه وکړئ چې کلمو ته غوږ ونيسي، او هم قافيې کلمې په نښه کړي.

۳. کله چې زده کوونکي د هم-قافيه کلمو په معنا وپوهېدل، له هغوی غوښتنه وکړئ چې خپل ځاني کارتونه د قافيې پر اساس ترتيب کړي. (هره مجموعه هم قافيه کلمې بايد يوه ځانګړې بستې ته ولاړه شي). ښايي زده کوونکي د مجموعې هرې کلمې ته هم-قافيه الفاظ پيدا نه کړای شي، خو دا به ډېره غوره لاره وي چې په خپله د کلمو پر مجموعه تېر شي، هره کلمه له ځان سره تکرار کړي، او معلومه يې کړي چې که له کومې بلې کلمې سره هم قافيه وي.

# د افغان ښوونکي لارښود کې دا فعالیتونه شامل دي:

د افغان ولسي ښوونیزو قصو لوستل

په لوړ غږ لوستلو فعالیتونو داسې ډیزاین شوي دي چې په دې څېزونو کې ښوالی راولي:

تقریري ژبه د پوښتنو او بحث له لارې

د لوړې سطحې فکر کولو مهارت د ورته والي د فکر رامنځ ته کولو په شمول

د قصې سیالي د تکرار له لارې

د قصې خپلول، د زده کړې عرضه چې ډیر دوام کوي

ټولنیز-احساساتي انکشاف

## قصې ته ځواب

لوستل، لیکل، غوږ نیول، خبرې کول

هغه فعالیتونو چې د دې ستراتیژیو او مهارتونو لپاره ډیزاین شوي دي:

شخصي ځواب د بحث په شمول

رسمول او بیاویل

د لوستلو او لیکولو د مهارت جوړول

د لغاتونو په لوستلو کې انکشاف

د لغاتونو د نمونو پیژندنه

د پوهې او درک مهارت

د فکر کولو مهارت د ورته والي د فکر د وړتیا د رامنځ ته کولو په شمول

## د اندازه کولو چارټ

چې په انفرادي ډول د زده کوونکي او ټولګي پرمختګ ارزیابي او وټاکلای شئ

د کور/ټولګي تر منځ د تفاهم رامنځ ته کول

ماشومان د هوپو قصې له کورنیو او ټولنې سره شریکوي

ماشومان له کورنۍ او ټولنې څخه قصې راټولوي

د هوپو کتابونو او ښوونکو لارښود په اړه د ډیرو معلوماتو لپاره لطفاً تماس ونیسئ:

ختیځ بیارغونې موسسه (کور)

P.O. Box No. 5704, Kabul

تلیفون شمیرې:,0093(0)700265826

0799321334, 0752004466

یا موږ ته بریښنالیک راواستوئ: hoopoebooks@aol.com

HOOPOE BOOKS

kor.pubs@yahoo.com